**ليکونکی** : نيکولاس جی،اس داويس (Nicolas J.S. Davies).
**منبع او خپريدو نيټه** : کما ن دريم «16-02-2020» .
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سيد حسا م «مل» .
------------[19]--------------------------------------------------------

# ا فغا ن سرتيری وايي چي طا لبا ن ورونه دي اوجګړه واقعاً زمونږ جګړه نه ده

**Afghan troops say Taliban are brothers and war is not realy our fight**

افغا نستا ن دمتحده ايالاتوترټولواوږده جګړه نه ده دغه غملړلی فرق اويا توپير دامريکي هندی جنګونو پوری اړه لري

*Afghanistan is not the united states longst war ,that tragic distinction belong to the American Indian war*



د طا لبا نو جګيالی دجلال آباد ښاردننګرهارپه مرکز کي دولت ته دتسليميدوپه مراسموکی

*نړۍ په ډېرې لیوالتیا سره انتظا ر باسي چې وګوري ایا د متحده ایالاتو او افغان حکومتونه او طا لبا ن به د یوې اونۍ اوربند سره موافقه وکړي چې کیدای شي د جا مع ، دایمي ا و هراړخیزاوربند او له ا فغا نستا ن څخه د نورو بهرنیو نیواکګرو ځواکونو وتلو ته لاره هواره کړي.ایا خبرې ا ترې د دې وخت لپا ره واقع کیدی شي ، یا ایادا به دولسمشر* ***ټرامپ*** *د ډله ایز وژنې او شهرت لرونکي کړنې روږدي کیدو لپاره یو بل سیا سي سګرت څکل یا دسګرتو دودول وي ؟*

*که اوربند واقعاً پیښ شي ،هیڅوک به لکه دهغو ا فغا نا نوپه شان خوشحاله نشی کوم چی دجګړی په لمړی کرښه کی جنګیږی او خپل ژوند دلاسه ورکوی لکه همغسی چی یو ددوی څخه د (بی بی سی ) خبریال ته وویل چی دغه جګړه واقعاً چی زمونږ جګړه نه دي افغا نی دولتی سرتیری او افغا نی پلیس کوم چی ددی جګړی په مقد م کرښه کي جنګیږی دزیا تو تلفا توسره مخا مخ کیږي نودوی (بی بی سی ) خبر یال ته وویل چي دوی د طالبانو څخه نفرت او د متحده ایالاتو تر ملاتړ لاندې حکومت سره وفاداري نه جنګوي ، بلکې له غربت نا امیدۍ او ځان سا تنې څخه کار اخلي یا جنګیږی. .پدې برخه کې ، دوی په ورته کړکیچن وضعیت کې راګیر دي لکه په ملیونونه نور خلک چې د مینځنی ختیځ د شخړو په اوږدو کې چیرې چېرته چې متحده ایالاتو د خلکو کورونه او ټولنې د امریکا د "جنګ ډګر" ګرځولي دي. په همدی ورته شان سره په جګړو سره بخت دي .*

*په ا فغا نستا ن کي د متحده ایالاتو لخوا روزل شوی ځا نګړی عملیا ت کونکي ځواکونو د شپی له خوا د طا لبا نو ترولکی لاندی سیمو کی شپنی چا پیزی(یرغل) عملیا ت دامریکی دهوایی ځواکونو په ملاتړ سره ترسره کوي چي د دی عملیا تونو په لړ کی په لویه کچه د مقا ومت جنګیا لی او غیر نظا می وګړي وژل کیږي کوم چي دامریکی له خوا هغه شمیر بمونه او میزایل چي په کا ل (2019) کی له هوا څخه دا فغا نستا ن دخمکي پر مخ غورځولی (7423) شمیره ثبت شوی دی .*

*مګرلکه څنګه چي د (بی بی سی ) خبریال* ***نا نا موستیفنسین*** *(Nanamou Stefensen) څرګنده کړه [ دلته یی وګوري « 4 ، 11 » تر « 50 ، 16» ] دا د افغا ن لمړی درجه په سلاح سمبا ل سرتیری او پولیس دی کوم چي د هیواد په سرتا سرکی پخپلو پوستو (پاټکونو) او «چیک پاینټونو» کی بی له دی چی دامریکایی قوتونو ملاتړله ځان سره ولری نا ست او خپل ورسپا رل شوی د ندی مخ ته وړی . د ځا نګړو عملیا تونو ځا نګړی ځواکونه څوک چي د تلفا توخورا حیرانونکي کچي سره مخا مخ کیږي –اولسمشر«غنی» په (2019) کا ل د جنوري په میا شت کي څرکند کړ چي (45000) څخه زیا ت افغا نی امنیتی ( سرتیری*

او پولیس) د سپتا مبر میا شت کا ل (2014) کی چي هغه واک ترلاسه کړی وژل شوی دي اوبیا په خاصه توگه د هغو د تلفا تو شمیره په کا ل (2019) خورا زیات وه . کوم چی هغه دمرگونو دکال په نوم یادول شوی دي .

**ستیفسن** دافغا نستا ن د شاخوا سیموپه سفرکی دا فغا نی سرتیرو او پولیسو سره دهغوی په پوستو او (چک پاینټونو) کی چی د طا لبا نو په وړاندي دمتحده ایالاتو دجگړی په لمړي کرښه کي مستقراوځای پرځای دي خبری وکړي ،دغه سرتیرو **استیفسن** ته وویل چي هغوی له دی نه چی کوم کار هغوی ته نه تر لاسه کیدل نو د مجبوریت په نظرکی نیولو سره خپل نوم په پوځ او په پولیسو کی ثبت اوراجستر کړل ، هغوی همدارنگه د (بی بی سی ) دغه خبریا لی ته وویل چي هغوی مخکی له دی چي د جبهی یا دجنگ میدان ته ولیږدول شی نو د یوی میا شت موده کی هغوی ته د (AK-47 ) ا و( RPG ) د پکاروړلو تعلیم ورکړل شو – ډیری دهغوي پخپل تن کی معمول افغا نی جا می درلود یعنی په تن کی ( تی شرت ) او په پښو کی سلیپر یا بوټان اما یو لږه شمیر نور یی په خپل تن کي سپورتی جامی اویا زیریی (body armor ) جا می دگولی د اصابت په مقابل کي دخپل ځا ن دمحا فظت لپاره درلود اوپه دوامداره ویره کی ژوند کاوه اوپه دي هیلی وه چی هره شیبه کی به بریا تر لاسه کړي یو پولیس **ستیفسن** ته وویل : دوی زمونږ پروا نه ساتي له همدی امله زمونږ زیا ت شمیر ملگری وژل کیږي ، دا مونږ پوری اړه لری چی جگړه وکړو یا ونکړو یا چي ځان ووژنو دا ټول هغه څه دي چی مونږ ورسره مخا مخ یوو .

د ا فغا نستا ن د ملي پولیسو مشر **خوشحا ل «سادات»** پخپل یو حیرانونکي مصاحبه یا مرکه کی د متحده ایالاتو ترملا تړ لاندی د فاسد حکومت له خوا ددوی دژوند دنه ارزښت ورکولو په هکله د ا فغا نی سرتیرو نظر تا یید کړ. جنرال **«سادات»** له انگلستا ن اومتحده ایالاتود نظا می کا لجونو فارغ التحصیل دي چي په کال (2014) کي داولسمشر« **کرزی** » له خوا کوم چي هغه خپل خلک په غیر قا نوني ډول بندی کول د امریکي اود آنگلستان په گټه دخپل هیواد سره د خیا نت په تور نظا می محکمه شو. او بیا اولسمشر (غنی) هغه یعنی سادات بیي په کال (2019) کی د پولیسو د مشر په توگه وگمارل – نو **ستیفینسین** دسادات څخه دمورال اودگمارنی دلوری مرگ ژوبلی داغیزی په اړه وپوښتل ؟ نو جنرال **«سادات»** هغه ته په ځواب کي وویل : زه ټل دکورنیو او ددوی د ما شوما نو په اړه فکر کوم ، ښه شی دادي چي هیڅکله دجنگ عمر لرونکی نارینه گا نو کمی نه وی ، څوک چي به وکولای شي په دی ځواک کی شا مل شي .

ستېيفنسن دخپل راپور دهغه وروستۍ مرکه ګذارش کوم چي ، د طا لبا نو تر ولکې لاندې سيمه کی د وردګو ښا ر ته د تلونکو موټرو لپا ره د يوې تالاشی پوستې د پوليس څخه د جګړې د اصلي هد ف په اړه له هغه څخه پوښتنی وکړ يا داچي هغه پوليس د **ستيفسن** دسوال په ځواب کي وويل ،"موږ ټول مسلما نا ن سره ورونه يو. موږ له يو بل سره ستونزه نه لرو.نو **ستيفسن** هغه ته وويل چی نو " بيا تا سو ولې جګړه کوئ؟ هغې له هغه وپوښتل. هغه وخند ل ، په غوسه وخند ل او په يو ډول نا خوښ بڼی سره يو څه تم شو اوبيا وويل . "تاسو پوهيږئ چې ولې. زه پوهيږم چې ولې. دا واقعاً زموږ جګړه نه ده ، "هغه وويل. نو ولې موږ ټول جګړه کوو؟

دافغانی سرتيرو سلوک اويا رفتارکوم چي **ستيفسن** دهغو سره مرکه ترسره کړی دامريکی دجنګ په دوارو خواوکي سره مشترک اړخ لری اوهغه داچي دامريکی متحده ايالات د هغه نا امن اود بی ټيکا و قوس يا ليندی ترشا ولاړ دی کوم چي دهغه واټن له افغا نستا ن څخه بيا تر **ما لي** هيواد پوری پنځه زره ما يل واټن لری د رژيمونو د بد لون او ترورريزم سره په جګړه کي هغه هد فونه دي چي کورنی او ټولنی دخپل جګړي په ډګر باندی اړولی دي اوګڼ شميرخلک دنه کسب وکار (دندی) په لرلو سره په ناهيلی اوپه نا اميدی کی دپوځيا نو اود نظا می قوتونو سره د مجبوريت له امله يوځای شوی دي - اما دزياتو دلايلو په نظر کی نيولو سره هغه څه چي ولويد يځ سيا ستوالو اوغربی اند يښمنا نو فکر کوی هسی نه دي دغه خلک کوم چی **ستيفيسن** دهغوسر مرکه ترسره کړی چندان دا يد يولوژی ، مذ هب اويا د يو لړ نا وړی انګيزی په لټه کی نه دي کوم چی غربی سياستوالو فکر کوی بلکه هغوی دخپل ژوند د معشيت په لټه کي دی نه دا يد يولوژی، مذ هب او ..داسی نوروشيا نو .

دامريکی دمتحده ايالاتو دبا ند نيو چا رو وزير**کا ند وليزا رايس** (Condolezza Rice) په کا ل (2005)کی دنړيوال ترهګري په اړه دبهرنی چارو دوزارت کلنی راپور چي کله تېرل نو وروسته له هغه چي څرګنده شوه دمتحده ايالاتو دواسله والو جنګ (دتروريزم په وړاندی) لمړي دری کاله دتروريزم او دوسله وال مقاومت دنړيدو اودچاودنی لامل شوی اودخپل ټاکل شوی اهدافو سره مخا لف وه چی راپور ته د **کاندوليزا را يس** ځوا ب دا وو چی د متحده ايالاتو د قا نون جوړونی اوبی ثبا ته جګړو د بربنډ څرګند ونی پا يلي په اړه دعا مه پوها وی د کمولو هڅه وکړي . يا په بل عبارت **رايس** وغوښتل چی دعامه خلکو د پوهاوی کچه دامريکی دبربنډی بی ګټی اود بی ثبات جګړی د پايلی په اړه کمه کړي .

پنځلس کا له وروسته ، د ا مريکې متحده ايالات او د هغه تلپا تې دښمنان د تاوتريخوالي او ګډوډي په هغه پړاو کې پا تې دي ، چې له يوې خوا د وحشت او بوږنونکی فعا ليتونه د بل لوري لخوا د تا وتريخوا لي زيا تيد ل رامينځته کوي ، چې پای يې هيڅ نه ويني. څېړونکو

*ومونده چې څنګه د امريکې د جنګونو ګډونې اوارې دورې د هيواد نه وروسته پخواني غير جانبدار ملکي وګړي په هيواد کې وسله وا لوجنګيا ليو ته اړوي. په دوامداره توګه د جګړې د يرى بيلا بيلو زونونو کې ، د وى ومونډ ل چې اصلي لامل خلک په وسله والو ډ لو کې شا مليد ل د ځا ن ، خپلې کورنى يا خپلې ټولنې سا تل دي ، اوهغه دا چې جنګيا لي قوي وسله والې ډ لې شى ترڅوچې ايد يولوژى ته د يو څه لږ درنا وى په پرتله ترټولوپه سرکې خپل محا فظت ترلاسه کړي .*

*په کا ل (2015) کې ، په شخره کې د ملکي وګړو مرکز (CIVIC) ، د بوسنيا ، فلسطين (غزې) ، ليبيا او سوما ليا د « 250 » جنګيا ليو سره مرکې وکړې او پا يلې يې د خلکو د ليد لورى ته پيشکش وکړ کوم چې دهغه پا يلى داسى وه : په وسله وا له جګړه کې ملکي وګړي تر سرليک لاندې راپور کې خپرې کړې. اود دى نها د څيړونکو ومونډ له چې ، "د ښکېلتيا ترټولو عا م انګېزه ، چې په ټولو څلورو هيوادونو مطا لعا تو کې د مرکه کوونکو لخوا ويل شوي ، د ځان يا کورنى سا تنه وه.*

*د ملګروملتونو د پرمختيا يى پروګرامونو اداره (UNDP) په کا ل(2017) له هغه (500) څخه ورته نظر سنجى ترسره کړ کوم چې په افريقا کې له **القاعده** ، **بوکوحرام** ، **ا لشبا ب** اونورو واسله والو افراطى يا ترهګرى ډلو کى برخه يا ونډه اخيستى يا دهغو په ليکو کى سره يوځاى شوى دملګرى ملتونو نومورې اداره په افريقا کې افراطيت يا ترهګرى ته دسفر کولو تر سرليک لاندى يو راپور چمتو کړ : کوم چې په دى راپور کى داسى را کاږي چې موټر چلونکې اوهغو هڅونى د ګما رنى يا دا ستخدام لپا ره د( ا صلى ټکى ) مو ند نى وه کوم چې د مطا لعا تو د ترلاسه شوى پا يلى تا يد کړي اوهغه داچې ددغو جنګياليو غبرګون د(مهمى ټکي ) په اړه دهغوى د د ريځ روښانه کول وه .*

*دغه نظر سنجى په زړه پورى موند نى تر لاسه کړ . کوم چې (71) سلنه د (حکومت کړنې ) په ګوته کوى چې د هغه کړنو له جملى څخه د يو کورنى دغړى يا دملګرى قتل يا د کورنى دغړى يا دملګرى نيول په هغه پيښوکى چې دوى يى ديوځاى کيدو لامل وبا له شا مل وه د ملګرو ملتونو د پراختيا يى پروګرام اداره داسى پا يلى ترلاسه کړچى ددولت دا منيت دلوبغاړو کړنى د ګما رنى (استخدام) په اړه يوى بى سا رى چټک اقدام وه نه دهغه برعکس .*

*د متحده ايالاتو حکومت دځواکمنو نظامى صنعتى ګټو دترلاسه کولو په دليل دومره فاسد شوى کوم چې هغه په هيڅ توګه سره د دغه څيړنى يا د مطا لعا تو د ترلاسه شوى پايلى*

ته هیڅ پام او علاقمندی نه راښیی پرته له دي چې د خپل غیرقا نونی اود وژونکی جنګ درامینځته کولو اوږدی تجربی وښیي اوپه دي معمولو اظهاراتو لکه ( ټول غوراویی یا ګزینی ) دمیز پرمخ پروت دی هیوادونه وبیروی اووددی غوراویی له جملی څخه د نظا می ځواک یکا رول اود ملګرو ملتونو د منشور له پریکړو څخه په سر غړونی سره هیوادونه تر فشا ر او ګواښنی لاندی راولي چې په دي ډول مبهم او ناڅرګند اویا بی پرده دریځ سره د جنګ جګړی لپاره لاره اواره کړی او هیوادونه تر خپل شا نتا ژ لاندی وسا تي .

مګر هرڅومره چې دا مریکي عامه خلک په ښکا ره توګه سره دناورینو جګړوله توجیها تو څخه د دروغ ، با طل ، اخلاقی اوسیا سی ماتی په اړه پوها وي او کره معلومات تر لاسه کړي نو په څرګند ډول سره مونږ کولای شو چې دجنګ ځپلو سیا ستونو دروغجنو ادعاوو ته ننګونه ورکړو چې سیا ستونه یی نړي ته یواځی د مرګ ، ورا نی ، او اړی دوړی وړاند یز کوی – د **ترامپ** دروغجنه ، ا یرانی وژونکي تګلاره یواځی وروستنی بیلګه ده اودهغی نا وړه پا یلو سربیره د متحده ایالاتو وسله وال جګړه له یوڅو معززواستثنا تو سره په غمجنه توګه دوه حزبی به پا تي وي .

کله چې متحده ایالات دخلکو وژنه او ددوی پر کورونو باندی بمباری ودروی اونړي بی له دی چې دا مریکی ترملا تړ لاندی مسلح قوتونو او یا ځنی نوری وسله وا لي ډ لی کوم چې اوس دجګړی په حال کی دي یوځای شی یعنی چې ګډون ونکړي نوپه دی صورت کي یواځی او وروسته هغه شخړی چې دا مریکی د نظا میګری د سیا ست محصول او اوس په نړی کي مشتعل دی دهغه کچه به را ټیټه شی اویا داچې به له مینځه لاړ شي .

په افغا نستا ن کی جګړه د متحده ایالاتو تر ټولو اوږده جګړه نه ده داغملړی او غمجن توپیر یا تفا وت دا مریکی - هندی جنګو نو پوری اړه لری چې دامریکی له رامینځته کیدو څخه تر د اخری ا پاچې ( دامریکي په جنوب فربی سیمه کی دهندی قبیلی د ګروپ غړی ) کال (1924) تر بندی کید و پوری دوام لرل. خو ا ما په ا فغا نستا ن کي د متحده ا یا لاتو جګړه چې له (1945) څخه راهسی پیل او لا دوام لری د متحده ایالا تو تر ټولو اوږده هغه **اناکرونیستیک** ( anachronistic) او اټکل کیدونکي غیر نظا می **نوی امپریا ل** جنګ اوجګړه دي .

لکه څنګه چې په وینکور (Vancouver) کی یو افغان ټکسی چلونکی دریور ماته وویل :
مونږ په ا **تلسم پیړی** کی د **پا رس امپراتوری** ته ما ته ورکړه ، مونږ په **نولسم پیړی** کي انګلیس ته ما تی ورکړ ، مونږ په **(شلم)** پیړی کی روسیی ته ما تی ورکړ ا و اوس مونږ

د**(نا تو)** اود نورو(28) **هیوادونو** سره په **جګړه** کي بخت یو چي دوی ته به هم ماتی ورکړو - ما ددغه **افغان** تکسی دریور په خبرو با ندي د یوی د قیقی لپاره هم شک ونکړ اما ولی د متحده ایالاتو مشران کوم چي پخپل امپراتوری ، لوړنظا می بودجه او پرعا لی تسلیحاتی تکنا لوژی باندی په تکیه لرلو او غرور تکبر سره د دی ا فغا نی تکسی دریور خبرو ته غوږ نه نیسی ؟

## ددی مقالی دلیکونکی په اړه څو کرښی :

**Nicolas J.S. Davies** = (زمونږ لاس په وینه ککړ) لیکوال ، دامریکی یرغل پرعراق اودهغه **هیواد** بربادی ، همدارنګه د «**اوباما**» دلمړی دوری زمامداری باندی دڅو، **فصلونو** په ترڅ کي لیکني او **اوباما** د (44) **جمهور** ریسا نو په درجه بندی او هم د **اوبا ما** دلمړی دوری زما مداری کی د یو مترقی مشر په توګه ا و ...... لیکینی لری .

**-------------------------------- په درنا وی «19-02-2020»**